مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۸۰ (از ۲۸ سرطان الی ۴ اسد ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:


- مقدمه ........ ۳

**عملیات وزیرستان و نارضایتی افغانستان**

- تغییر در سیاست افغانستان ........ ۴
- انتقاد افغانستان از عملیات در وزیرستان ........ ۵
- آیا این عملیات «گزینشی» است؟ ........ ۵
- از آغاز عملیات تا اکنون ........ ٦




## د افغانستان امنيت د دسيسو او انحصار په منگول کې


- مرموز ويجاړوونکي بريدونه ........................................ ۷
- د امنيتي ارگانونو ستونزې ........................................ ۸
- د سياسي لوبو او مصلحتونو اغيز ........................................ ۹







# مقدمه

په دې ګڼه کې د پاکستاني پوځ له خوا په شمالي وزیرستان کې د روانو عملیاتو په تړاو، چې له تېرې څه مودې راهیسې پیل شوي، د افغان حکومت نیوکې او ناخوښي او همدا راز په دې وروستیو کې د افغان ځواکونو په تړاو رامنځته شوو بې باوریو په اړه، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د اوونۍ تحلیل د بورډ شنني لولئ.

* له تېرې څه مودې راهیسې د پاکستان د پوځ له خوا، په شمالي وزیرستان کې د طالبانو د ځپلو په موخه پراخ عملیات پیل شوي دي. د دغو عملیاتو له امله سلګونه زره سیمه‌ییز اوسېدونکي هم له سیمې څخه کوچېدو ته اړ شوي او ترڅنګ یې درنې مرګ ژوبلې او زیانونه هم د سیمې عامو وګړو ته رسېدلي دي. پاکستان په لومړي سر کې د دغو عملیاتو د بریا لپاره د افغانستان له حکومت څخه هم د مرستې غوښتنه وکړه، چې د همغږۍ لپاره یې افغان او پاکستاني چارواکو سفرونه هم وکړل؛ خو اوس بیا د دغو عملیاتو په تړاو د افغان دولت دریځ بدل شوی او د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې په شمالي وزیرستان کې د پاکستان د پوځ له خوا روان عملیات، افغانستان ته د منلو وړ نه دي.

* همدا راز په دې وروستیو کې له ځینې پېښو وروسته د افغان ځواکونو په تړاو د عامو افغانانو غبرګونونه راپارېدلي دي. له دغو ځواکونو د ولسي جرګې غړو ته د ځینو سیمو د قومي مشرانو شکایتونو د خلکو پام ځان ته اړولی دی. د دې ترڅنګ د لرې پرتو سیمو وګړي هم له دغو ځواکونو سرټکوي او وایي، چې په سیمو کې یې رسنۍ لاسرسی نه لري او دغو سیمو ته په نورو قومونو پورې د اړوندو سرتېرو وراستولو یې ژوند ورتریخ کړی دی. په عملیاتي ډګر کې هم ولسي وګړو ته د درنې مرګ ژوبلې واړولو ګنې اندېښنې له ځان سره درلودلې دي او په هلمند کې د وروستۍ جګړې په څېر پېښو کې، د لرې پرتو سیمو خلک د افغان ځواکونو له خوا، له وژنو او ځورونو سرټکوي.

## عملیات وزیرستان و نارضایتی افغانستان



قبل از کودتای ثور سال ۱۹۷۸ میلادی در افغانستان، دولت‌های حاکم بر افغانستان همیشه نسبت به مسئلهٔ قبایل آنسوی دیورند حساس بودند و همیشه مداخلهٔ حکومت پاکستان در مسایل قبایل را، به عنوان مداخله در امور داخلی مردمی که باید مستقل باشند، تلقی می‌کردند و به آن اعتراض می‌نمودند. در آن دوران افغانستان تأکید داشت که مناطق مذکور "مورد اختلاف" بوده و خط دیورند که این مناطق را از افغانستان جدا نموده، را نیز به عنوان خط سرحدی قابل قبول نیست.

دولت افغانستان در آن دوران خود را حامی حق خود ارادیت مردمان پشتون و بلوچ می‌دانست و تعدادی از سران این اقوام نیز سال‌های طولانی از تبعید خود را، در افغانستان گذرانیدند.

حتی در جنگ سال ۱۹۷۱ میلادی میان هند و پاکستان که به جدایی بنگلادش از پاکستان منجر گردید، دولت افغانستان بخاطر بمباران مناطقی در صوبهٔ سرحد توسط نیروی هوایی هندوستان، مراتب نگرانی خود را به دهلی جدید ابراز نمود. افغانستان در آن زمان این مناطق را «پشتونستان» می‌نامید.

### تغییر در سیاست افغانستان

به نظر می‌رسد که اکنون پشتونستان مورد خواست افغانستان، شکلِ معکوس به خود گرفته و این پاکستان است که به تقاضای مردم صوبهٔ سرحد، این منطقه را خیبر پشتونخواه نام نهاده و افغانستان سال‌هاست با داعیهٔ پشتونستان، وداع گفته است.

در طول چند دههٔ گذشته شرایط یک‌سره تغییر کرده و برعکس دوران‌های گذشته، دولت افغانستان پاکستان را بخاطر عدم مداخله در مسایلی که در مناطق قبایلی می‌گذرد و بر افغانستان تاثیر منفی دارد، مورد انتقاد قرار می‌دهد. حتی بارها

افغانستان از پاکستان بخاطر ناامنی‌هایی که ریشه در «آنسوی سرحد» دارد، شکوه و شکایت سر داده است. از نظر پاکستان این سیاست جدید افغانستان، تلویحاً به معنای قبول دیورند به عنوان سرحد بین المللی میان دو کشور است.

## انتقاد افغانستان از عملیات در وزیرستان

بر مبنای همین سیاست جدید افغانستان، زمانیکه نیروهای پاکستانی عملیات وسیعی را در وزیرستان شمالی آغاز کردند، دولت افغانستان از آن استقبال نمود. دیگر این مسئله برای افغانستان مهم نبود که این کار، تغییر در سیاست عنعنوی افغانستان مبنی بر حمایت از حق خود ارادیت برای مردم پشتون و بلوچ آنسوی دیورند است. حتی مقامات دولتی افغان از خاموشی حکومت پاکستان در برابر فعالیت‌های طالبان در ایالت بلوچستان این کشور نیز اعتراض دارند و خواهان عملیات در این ایالت نیز هستند.

اکنون که از آغاز عملیات در وزیرستان شمالی هفته‌ها می‌گذرد، دولت افغانستان مدعی است که نیروهای پاکستان در این عملیات بصورت گزینشی عمل کرده‌اند. یعنی فقط طالبانی را هدف قرارداده‌اند که با حکومت پاکستان مخالف اند؛ اما علیه طالبانی که با حکومت افغانستان در نبرد اند، کاری انجام نداده‌اند. در این رابطه به صورت مشخص از شبکهٔ حقانی نام برده می‌شود.

عملیات وزیرستان به آواره شدن حدود یک ملیون نفر از خانه‌های شان منجر گردیده و قرار اطلاعات منابع بی‌طرف، در این عملیات تعداد زیادی از مردم غیرنظامی نیز کشته و مجروح شده‌اند.

## آیا این عملیات «گزینشی» است؟

برای جواب به این سوال باید به دلایل پشت پردهٔ این عملیات توجه کنیم؛ هدف اصلی از این عملیات مراکز طالبانی بود که از ملا فضل الله به عنوان رهبر طالبان پاکستان دستور می‌گیرند. گفته می‌شود که ملا فضل الله در مناطق دورافتادهٔ ولایت کنر پناه گرفته است.

پاکستان هرگز نمی‌خواهد که رهبری مخالفین این کشور در خارج از مرزهای این کشور باشد. بزرگترین نگرانی در این مورد نفوذ هندوستان در میان مخالفین مسلح این کشور است که ممکن است با وساطت افغانستان ممکن گردد.

زمانیکه حکیم الله محسود رهبر سابق طالبان پاکستان کشته شد، اختلاف برسر جانشینی وی به میان آمد. در وزیرستان شمالی فرماندهان قدرتمندی بودند که می‌خواستند به این مقام برسند. از جانب دیگر طالبان پاکستانی به گروه‌های متعدد

تقسیم شده‌اند که رسیدن به یک توافق کامل در مسایل مهم را میان شان دشوار می‌سازد. به همین دلیل آنها از رهبری طالبان افغان کمک خواستند و ملامحمد عمر، از ملا فضل الله رهبر طالبان در سوات حمایت کرد و او به این سمت برگزیده شد. کاندید دیگر در این میدان خان سید سجنا بود که به دلیل تمایلش به همکاری با حکومت پاکستان، مورد قبول سران طالبان قرار نگرفت. حتی حافظ گل بهادر که در گذشته با حکومت پاکستان قرارداد آتش بس امضا کرده بود، نیز با سجنا مخالفت نمود. وقتی جنگ‌های سجنا با طرفداران ملا فضل الله به نتیجۀ مطلوب نرسید، حکومت پاکستان عملیات را آغاز کرد.

## از آغاز عملیات تا اکنون

چند روز قبل از آغاز عملیات، نیروهای پاکستانی از عملیات قریب الوقوع شان در وزیرستان شمالی خبر دادند. حافظ گل بهادر نیز از مردم محل خواست تا بجای رفتن به مناطقی در داخل پاکستان، به افغانستان بروند. این مسئله بیشتر موجب نگرانی پاکستان گردید.

اعلام عملیات در آیندۀ نزدیک در شرایطی صورت گرفت که سرحد میان افغانستان و پاکستان باز بود و در نتیجه، هم مردم غیرنظامی توانستند قبل از عملیات از سرحد عبور نمایند، و هم جنگجویان خود را به مناطق امن در وزیرستان جنوبی و مناطقی در داخل افغانستان مانند نورستان و کنر رسانیدند.

تحلیلگران امور نظامی به این باور اند که پاکستان باید قبل از اعلام عملیات، سعی در محاصرۀ وزیرستان شمالی می‌نمود تا مانع فرار جنگجویان گردد، اما این کار را نکرد. به همین دلیل دولت افغانستان مدعی است که این عملیات شکل گزینشی و حتی نمایشی داشته است.

اما تا آنجا که مسئله به عملیات علیه گروه حقانی مربوط است، مراکز این گروه در میرانشاه اکنون در کنترول فوج پاکستان بوده و مدرسۀ منبع العلوم که از دوران جهاد علیه شوروی توسط مولوی جلال الدین حقانی در میرانشاه فعال بود، اکنون تعطیل است.

از طرف دیگر پاکستان که از امریکا مقدار قابل توجه جنگ افزار را که در جنگ افغانستان از آن استفاده نموده بود دریافت داشته است، لازم بود تا عملیاتی را در این منطقه راه اندازی نماید، اما درحالیکه نیروهای نظامی پاکستان هر روز مدعی پیروزی‌های تازه علیه شورشیان در وزیرستان اند، منابع مستقل خبری به این منطقه دسترسی ندارند، تا حقایق را بی‌طرفانه منعکس سازند.

# د افغانستان امنیت د دسیسو او انحصار په منګول کې



## مرموز ویجاړوونکي بریدونه

په داسې حال کې، چې په دې وروستیو کې د هېواد وضعیت د سیاسي لانجو او کشمکشونو له امله د بحران پر پوله ولاړ دی، په هېواد کې د ناامنیو زیاتېدو او د ناامنیو ځینې مرموزو پېښو او دغه راز په یو شمېر سیمو کې د افغان ځواکونو ځینې کړنو او پر دغو ځواکونو د بې باورۍ زیاتېدو، د خلکو پام ځان ته اړولی دی.

که له یوې خوا د نړیوالو ځواکونو، افغان ځواکونو، د دولت د وسله والو مخالفینو او نورو لورو له خوا د افغان ولس د وژنې او ځورونې لړۍ له تېرو څو کلونو راهیسې روانه ده؛ په دې وروستیو کې د یوه ناڅرګند دښمن له خوا د ارګون د پېښې په څېر ټولوژنې او بریدونه او همدا راز په سیمه ییزه کچه د شمالي وزیرستان د عملیاتو په څېر پلان شوې پېښې هم، د افغانستان د راتلونکي امنیت لپاره یوه پلان شوې او جدي ننګونه بلل کېږي.

پر افغانستان او عراق د امریکا له بریدونو وروسته، تل د دغو دواړو هېوادونو تر منځ د امنیتي وضعیت پرتلنه کېږي، چې یوه تر ټولو مهمه برخه یې هم همدا مرموز او ویجاړوونکي بریدونه دي.

دا مهال له بل هر وخت زیات د افغانستان د امنیتي ارګانونو رول، اغېز، د دوی نیمګړتیاوو او دغه راز دې برخې ته د پاملرنې نشتوالي ته، پام واوړي.

## د امنيتي ارګانونو ستونزې

د افغانستان پر امنيتي ارګانونو بې باوري او د ولس او هغوی تر منځ واټن، ورځ تر بلې مخ په زياتېدو دي او دا بې باوري او د واټن زياتېدل بېلابېل لاملونه لري.

که څه هم په تېرو کلونو کې د بهرنيانو له خوا د افغان ځواکونو د روزنې د پروسې تر نامه لاندې د افغان پوځ د يوې زياتې برخې د روزنې ادعا کېږي؛ خو له عملي حقيقتونو ښکاري، چې افغان ځواکونه لاهم غيرمسلکي او فعاليت يې تر لويو ښارونو ورهاخوا په ډېری سيمو کې د ولسونو د ځپلو او ځورولو لامل شوی دی.

په تېرو څو کلونو کې وخت ناوخت او په تېره بيا په وروستی څه موده کې د ولسي وګړو پر ضد د افغان ځواکونو اقداماتو او د دوی له خوا د عملياتو پر مهال د ولسي وګړو پراخې مرګ ژوبلې، له عامو هېوادالو سره کرکه پيدا کړې ده. ډېر کله خو د بهرنيو ځواکونو جنايتونه د ګډو عملياتو تر نامه لاندې د افغان ځواکونو له لارې عملي شوي دي.

له بلې خوا د ملي اردو او پوليسو ترڅنګ د بهرنيو لورو له خوا د يوه ژور پلان له مخې، د ټول افغانستان په کچه د سيمه ييزو پوليسو په نوم جوړښت، چې پخوا ملېشه بلل کېده، رامنځته کول او بيا په ډېرو سيمو کې د هغوی پر جنايتونو سترګې پټول هم، د عامو افغانانو او حکومت ترمنځ واټن خورا زيات کړی دی. همدا راز دغه جوړښت په بېلابېلو سيمو کې د قومي دښمنيو لامل هم شوی، چې په راتلونکي کې د هېواد امنيت ته لوی ګواښ بلل کېدای شي.

د سيمه ييزو پوليسو د تشکيل په لومړيو مياشتو کې د هغوی پر کړنو له عامو افغانانو نيولې تر مدني ټولنې او چارواکو پورې غبرګونونه وښودل شول، چې په کندوز ولايت کې د قوماندان قديرک او ميرعلم او په اروزګان ولايت کې هم د حکيم شجاعي او عبدالصمد په نومونو د سيمه ييزو پوليسو د قوماندانانو په څېر اشخاصو پر ضد، چې د ګڼو بې ګناه وګړو، مېرمنو او ماشومانو په وينو يې لاسونه ککړ بلل کېدل، همغه وخت خورا جدي غږونه اوچت شول؛ مګر د مخنيوي لپاره يې هېڅ ډول ګام پورته نه شو او د هغوی پر جنايتونو سترګو پټولو، عام افغانان مرکزي دولت ته له شکايت کولو نهيلي کړل.

په عادي حالاتو او د جګړې په ډګر کې د افغان ځواکونو له خوا، پر عامو افغانانو او حتی پېژندل شوو چارواکو د بريدونو او وژلو ځينې وروستی پېښې، په ځينې لرې پرتو سيمو کې د دغو ځواکونو له ظلمونو، وهلو ټکولو او ځورولو شکايتونه او د قانون په جامه کې غيرمسؤولانه فعاليتونه په ډېری سيمو کې د خلکو د کرکې لامل شوي دي.

د دې ترڅنګ په ټوليز ډول د دندې ترسره کولو پر مهال، له افغان ځواکونو سره د انګېزې نشتوالی هم د دغو ځواکونو يوه طبيعي نيمګړتيا ده او په ډېری لرې پرتو سيمو کې يوازې د معاشونو ترلاسه کولو په موخه شپې ورځې سبا کوي. همدا لامل دی، چې د بهرنيو کړيو د ډېری پلان شوو بريدونو مخنيوی هم نه کېږي.

## د سياسي لوبو او مصلحتونو اغېز

په ځانګړو قومي جوړښتونو پورې د دغو ځواکونو محدودوالي بيا د امنيتي ارګانونو پر ټول جوړښت بې باوري رامنځته کړې او په تېره بيا کله چې د ملي دريځ نيولو پر ځای، د يوه لوري په ګټه د زور له لارې په واک نيولو کې د دغو ځواکونو د ګډون په اړه اوازې هم خپرې شوې، د دغو ځواکونو پر ملي والي يې خورا منفي اغېز کړی دی.

د ولسمشر کرزي د دورې د مصلحتونو او ملي مشارکت په پايله کې، امنيتي سکتور هم د ونډو له مخې د ځينو لورو تر انحصار لاندې و، چې له امله يې په حساسو وختونو کې نظام ته ګواښ پېښ کړی او يا يې هم په ځينو مواردو کې د ملي ګټو خلاف ګامونه اوچت کړي دي. پر دې سربېره دې چارې د دغو ځواکونو په نه مسلکي توب او د مسلکي پوهې د نشتوالي له کبله، د هغوی په ناسم مديريت کې هم رول لوبولی دی.

د افغان پوځ په ليکو کې د قوم پالنې او ژبني تعصب له مخې د غچ اخېستلو پياوړې روحيه په ډېری سيمو کې د عامو افغانانو د وژنو او ځورونو لامل هم شوې، چې د مخنيوي لپاره يې د پام وړ اقدامات نه دي ليدل شوي.

که څه هم د امنيتي ادارو په ګډون د ونډو او مصلحتونو ښکار شوو او غيرمسلکي ادارو کې د اصلاحاتو لپاره د ملي مشارکت د حکومت له پای ته رسېدو او د نوي حکومت له جوړېدو سره ځينې افغانانو د بدلون تمې درلودې؛ خو داسې ښکاري، چې راتلونکی حکومت هم د مصلحتونو او جوړجاړيو ښکار دی او بهرني لاسونه په افغانستان کې د تېر په څېر يوه بل حکومت دوام غواړي.

تر کومه چې د افغانستان د خلکو له خوا د بهرنيانو د لاسونو ورلنډولو او بيا د سولې او ملي پخلاينې لپاره صادقانه او واقعبينانه ګامونه نه وي اوچت شوي، افغان ولس به تر يوه او بل نامه لاندې ځپل کېږي او د پرديو لپاره به قرباني ورکوي. پای

**ارتباط با ما:**

ايميل: csrskabul@gmail.com – info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)